ژباړه: هاشم سهار
ایډیټ: فرهاد ویاړ


## دین د لنین له انده

مذهب د ولس ترياک دی. د مارکس دا حکيمانه وينا، د دين د مسئلې په اړه د مارکسيزم د ټولې نړۍ ليد د ملاتير جوړوي. مارکسيزم، هميشه دين او کليساوې او ټول مذهبي جوړښتونه د بورژوازي هغه ارتجاعي ارګانونه ګڼي- چې غواړي د زبېښاك نه دفاع وکړي او کارګره طبقه تحقير او منحرفه کړي.
يوازې د کارګرو پرګنو طبقاتي مبارزه- چې د پرولتاريا پراخه اقشار، په هر اړخيزه توګه؛ انقلابي او تولنيزه آګاهانه پراتيک لورې ته کاږي- کولای شي چې تر ستم لاندې پرګني په رښتيني توګه د مذهب له يوغه وژغوري.
انګلس د دورينګ په ظاهره انقلابي مفکوره- چې په سوسيالستي ټولنه کې مذهب په بشپړه توګه منع کوي- په کلکه غندي. د انګلس په اند مذهب ته داسې د جګړې اعلانول له "بېسمارك څخه هم زيات بېسمارك کېدو" په مانا ده.
انګلس له کارګر ګوند څخه غواړي چې دا ګوند باېد پوه شي چې په زغم او حوصلې سره د پرولتاريا په غونډېدلو او پوهيايي لاس پورې کړي او باور لري چې دا کار به د دين له منځه تللو لامل شي.
سوسيال دموکراسی، مذهب د دولت پر وړاندې يو خصوصي امر ګڼلو. خو په هيڅ وجه يې هم د ځان پر وړاندې او په هيڅ وجه يې د مارکسيزم پر وړاندې او په هيڅ وجه يې د کارګر ګوند پر وړاندې (مذهب د يو خصوصي امر په توګه نه ګڼلو).
د مذهب پر وړاندې مبارزه نباېد انتزاعي ـ ايدئولوژيکو تبليغاتو ته محدود او ځانګړې کړو، بلکې باېد د طبقاتي غورځنګ د مشخص پراتيك سره چې موخه يې د مذهب ريښې وچول دي، تړاو ورکړو. نن ورځ د مذهب تر ټولو ژورې ريښې پر زيارکښو ولسونو باندې په هغه ټولنيز ستم کې او د پانګې د بې واکې ځواکونو په وړاندې د هغوی په ناتوانۍ کې نغښتې چې هره ورځ او هر ساعت د هرې بلې غيرعادي پېښې لکه جګړې او زلزلې او داسې نورو په پرتله په کراتو بد او دردناکه او غير انساني کړاونه پر عادي زيارکښو انسانانو تپي.
"خدايان د ويرې له امله رامنځ ته شوي"، د پانګې د بې واکې ځواك له ويرې. بې واکه، ځکه چې د هغه عمل د ولسي پرګنو لخوا د وړاندوينې وړ نه دی او پرولتاريا او واړه مالکين د ژوندانه په هر قدم کې؛ په ناڅاپي، تصادفي

او غیر منتظره دیوالي کیدو او د ولږی له امله په سوالګرۍ او دریوزګرۍ او بدلمنی ګواښي او په واقعیت کې هم داسي کوي.

تر هغه چي د پانګوالي د اجباري کار له امله ځېل شوی پرګني، د پانګوالي بې واکي او ویرانونکي ځواکونو پورې تړلي وي، تر هغه پورې چي دې پرګنو پخپله زده کړي نه وي چي متحد، متشکل او د برنامې سره سم، دا ربښه یعني د پانګي واکمنتیا په آګاهانه ډول سره، په هرې بڼي کې له منځه یوسي، تر هغه مهاله هیڅ ډول ښوونیزه رساله نشي کولای دا پرګني د مذهب له لاسه وژغوري.

د سوسیال دموکراسی آتئیستي تبلیغ، باېد د هغې د اصلي دندې تابع وي: یعني د زبېښاکګرو پر وړاندې د استثمار شوو ولسونو د طبقاتي مبارزې پراختیا.

د آتئیزم تیوریك تبلیغول، یعني د پرولتاریا د ځانګړو قشرونو مذهبي اعتقاداتو له منځه وړل، د دې قشرونو طبقاتي مبارزې د بریالیتوب له بهیر او شراېطو څخه، د غیر دیالکتیکي فکري طرز په مانا ده، یو مطلق برید ته د نسبي او متغیر برید د بدلول مانا لري، د داسي څه په قهري ډول د جلا کولو په مانا ده چي په یوه شته واقعیت کې، له یو بل سره په نه غوڅېدونکي ډول تړاو لري. یوه بېلګه وړاندې کوو: داسي انګېرو چي د یوې ځانګړې سیمي او یوه ځانګړي صنعت پرولتاریا د سوسیال دموکراتانو په یوه نسبتاً پرمختللي آګاه قشر باندې تجزیه کېږي چي مسلماً آتئیستان هم دي- او د کارګرانو په یوه وروسته پاتي قشر چي لا د کلي او کلیوالو سره تړاو لري، په خدای باور لري، کلیسا ته ځي او ان د کلي د روحانیونو تر مستقیمي اغېزې لاندې دي او په فرض سره یوه مسیحي کارګري اتحادیه جوړوي. او بیا هم فرض کوو چي په دې سیمي کې اقتصادي مبارزه یوه اعتصاب ته رسېدلي ده . په داسي حالت کې، یو مارکسیست دنده لري چي د هر بل څه په پرتله د اعتصابي غورځنګ بریالیتوب مهم وګڼي، په دې مبارزې کې د کارګرانو د انشعاب پر وړاندې فعالیت وکړي او په قاطعیت سره د دې انشعاب پر وړاندې مبارزه وکړي. په داسي شراېطو کې آتئیستي تبلیغ کولای شي په بشپړه توګه بې ځایه او ښایي زیانمنوکی هم وي؛ نه د انتخاباتو بایللو او داسي نور شیانو په اړه د وروسته پاتي اقشارو په منځ کې د ویرې اچوني د لنډاکه ملاحظاتو له امله، بلکي د طبقاتي مبارزې د پرمختګ له نظره چي په پانګوني ټولني کې یوازې د آتئیستي تبلیغاتو څخه به سل ځله ښه وکړای شي په مسیحیت معتقد کس د سوسیال دموکراسی خوا ته راجلب کړي.یو آتئیست مبلغ، په داسي حالاتو او په داسي شراېطو کې، یوازې د هغو کشیشانو او روحانیونو لاره هواره وي، چي غوره هیله یې دا ده چي کارګران د دې پرځای چي په اعتصاب کې د ګډون پر سر سره نژدې شي، پر خدای د باور لرو یا نلرو پر سر سره جلا شي. یو آنارشیست چي په هره بیه د خدای پر وړاندې د جګړې موعظه کوي، په واقعیت کې له کشیشانو او بورژوازی سره مرسته کوي (هماغسي چي آنارشیستان په حقیقت کې تل له بورژوازی سره مرسته کوي).

یو مارکسیست باېد ماتریالیست یعني د مذهب دښمن وي، خو یو دیالکتیك ماتریالیست، د مذهب پر وړاندې مبارزه په انتزاعي او د آبستره تبلیغ پر بنسټ او یوازې په تیوریکي ډول چي تل یو شان وي نه ترسره کوي، بلکي هغه په مشخصه توګه د طبقاتي مبارزې پر بنسټ- په هماغه ډول چي په واقعي عالم کې ترسره کېږي او ولسونو ته لا زیات او په ښه ډول تعلیم ورکوي- ترسره کوي. یو مارکسیست باید وکولای شي د یوه ځانګړي موقعیت ټول اړخونه په پام کې ونیسي او تل د آنارشیزم او اپورتنیزم تر منځ برید وپېژني (دا برید نسبي، متحرک او تغییر منونکی دی).